# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد      بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم      از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com      afgazad@gmail.com

| Ideological | مسائل ایدئولوژیک |
|---|---|



دعبدالحّی حبیبی په اهتمام
ژباړونکی: درویش وردگ

۱۵ جنوری ۲۰۱۸

## السَّوادُ الاعظم- ۳

**پښتوترجمه**

**تألیف: ابوالقاسم اسحاق بن محمّد بن اسماعیل بن ابراهیم بن زید حکیم سمرقندی**

**د ۳۷۰ هجری کال په شاه اوخوا دامیرنوح سامانی په فرمان فارسی ته ترجمه شوی**

**لومړی مسئله**

نوپوه شه رحمک الله: چی لومړی داده چی مومن باید په خپل ایمان کی په شک کی نه اوسی اونباید چی ووایی: چی زه مومن یم انشاء الله. ولکن باید ووایی: چی زه مومن یم په حق سره. نه وینی چی حق تعالی فرمایی: أُولئِکَ هُمُ المُفلِحُونَ. ځکه که ووایی چی: زه مومن یم انشاء الله. پخپل ایمان کی په شک کی لویږی. اوحق تعالی ویلی: اِنَّمَا الْمُومِنُونَ الَّذِینَ آمَنُو بِاالله وَرَسوُلِهِ ثُمَّ لَم یَرتَابوُا. وویل : مومنان هغه کسان دی چی په خدای اورسول یی ایمان راوړ. پس باید په خپل ایمان کی په شک کی ونه لویږی.

پس حق تعالی خلک په دریو ډلو یادکړی: مومن ، منافق اوکافر. اوځلورم یی ندی ویلی. پس وګوره چی له دی دریو په کومه ډلی پوری تړلی یی.

ولی مومنانو ته وویل: أُولئِکَ هُمُ الْمُفلِحُونَ حَقاً. اوکافرانوته یی وویل: أُولئِکَ هُمُ الْکَافِرُونَ حَقاً. اومنافقانو ته وویل: اِنَّ الْمُنَافِقِینَ فِی الدَّرکِ اَلْاَسفَلِ مِنَ النَّآرِ.

حق تعالی مومنان ته په حق سره مومن ویلی. اومنافقانو ته یی ویلی: اِنَّ الْمُنافِقِینَ فِی الْدَّرکِ الْاَسفَلِ مِنَ النَارِ. اوکافران یی په حق سره کافربللی. اوله دی دریو سره یی ځلورم ندی یاد کړی.

پس که ووایی چی مومن په حق سره هغه دی چی ټول طاعتونه په ټوله سره وکړی. هغه غافل ته ووایه چی مومن هغه دی چی طاعات وکړی اوکه نه په حق سره مومن ندی.

پس لازمه شوه ترڅوچی کافر ټولی ګناوی ونکړی نه کافرکیږی. اوکه ووایی چی کافر ته کافرنه ویل کیږی ترڅو ټولی ګناوی ونکړی، هغه کس کافرکیږی. ځکه چی حق تعالی جهودانو ته ویلی: علیهم اللعنه. کله چی دوی وویل: نُوْمِنُ بِبَعضٍ وَنُکفِرُ بِبَعضٍ. دوی یی په حقه کافر وګڼل اوویل: أُولئِکَ هُمُ الْکَافِرونَ حَقاً.

پس که ووایی مومن انشاء الله وګوره چی ددی انشاء الله سره څه غواړی؟ ماضی یا مستقبل؟ یا هغه حال چی پکی دی؟ که تیره زمانه وغواړی نو وایی: زه مومن وم که خدای غوښتی وی. یا مومن یم که خدای وغواړی. پدی دوو لفظو سره کفر واجب کوی. دېولو فقهاو په مذهب. اوکه راتلونکی سبا وغواړی، روا ده ولی بدعت دی. ځکه چی رسول صلی الله علیه وسلم ویلی: مَن لَم يَكُن مُومناً حقاً فَهُوَ كَافِرٌ حَقاً.

راوړی یی دی: چی یوه سړی له عبدالله ابن عباس رضی الله عنهما څخه وپوښتل: چی یا ابن عباسه! څرنګه باید وویل شی؟ عبدالله ابن عباس رضی الله عنهما وویل چی مومن په حقه. او داآیت یی ولوست: اِنَّ الْمُومِنوُنَ الّذِينَ آمَنُو بِاالله وَرَسوُلِهِ ثُمَّ لَم يَرتَابوُا.یعنی لم یشکها .

پس ووایه هغه غافل لره چی ته دخدای تعالی په غوښتنه مومن یی! یا پرته دخدای تعالی له غوښتنی؟ ځکه چی دانشاء الله تفسیر دادی: چی که خدای تعالی غوښتی وی زه مومن یم. اوکه په خپله غوښتنه سره مومن یی! پرته دخدای تعالی له غوښتنی، دامت په جماعت سره کافرشوی پدی چی پرته دخدای تعالی له غوښتنی هیڅ شی نشته.

که وپوښتی چی ایمان څه شی دی؟ ووایه چی ایمان دادی چیاَنْ تُومِنَ بِاللهِ وَمَلاَئكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرَسُولِهِ وَالْيَومِ الْأخِرِ وَالبَعثِ بَعدَالْمَوتِ وَالْقَدرِ خَيرهِ وَشَرَّهِ مِنَ الله تَعالى. وَالْجَنَّةُ حَقٌ، وَالْنارُحَقٌ، وَالصِراطُ حَقٌ، وَالْحِساب حَقٌ، وَماجَاءَبِهِ جبرئيلُ مِنَ اللهِ تَعالى على مُحَمَّدٍ عليه الصلواة والسَّلامُ فَهُوَحقٌ:

پس که داټول ووایی اووایی چی انشاء الله ، داایمان نه دی. اوکه داټول ووایی اونه وایی چی انشاء الله داایمان دی.

اوکه ووایی چی زه مومن یم انشاء الله. داسی ده چی یو نادان ووایی: خدای شته انشاء الله. اومحمد پیغمبر و انشاء الله. اوقرآن دخدای کلام دی انشا ء الله اوفرشتی شتون لری انشاء الله. اوقیامت به وشی انشاء الله ، داسی ویونکی پرته له خلافه کافردی.

نه ګوری چی که یو سړی ووایی: دده ښځه طلاقه، یا دده برده آزاد، یامی رانیو اویا می وپلوره انشاءالله . یا خدای لره څو ورځی روژه نیسم انشاء الله ، دغه انشاء الله ټول احکام باطلوی. دا مقدار بس دی هوښیار لره.